قسم په الله! له تاسو څخه هېڅوک ناحقه څه نه اخلي مګر دا چې د قيامت په ورځ به يې پر اوږو بار وي

له ابو حميد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله ﷺ د بني سليم د زکات پر مالونو يو سړی وټاکه چې ابن اللتبية نومېده، کله چې راستون شو، نو حسابي يې ورسره کوله، هغه وويل: دا ستاسو مال دی او دا ماته ډالۍ شوی دی، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: «ولې دې د خپل پلار او مور په کور کې نه کېناستې تر څو درته ډالۍ راغلې وې، که ته رښتيا وايې» بيا يې مور ته خطبه راکړه، نو د الله حمد او ثنا يې ادا کړه او بيا يې وفرمايل: «زه ستاسو څخه يو څوک پر هغه کار ګومارم چې الله ماته سپارلی، خو هغه راځي او وايي: دا ستاسو مال دی او دا ماته ډالۍ شوی دی، ولې هغه د خپل پلار او مور په کور کې نه کېناسته چې ډالۍ ورته راغلې وې، قسم په الله! له تاسو څخه هېڅوک ناحقه څه نه اخلي مګر دا چې د قيامت په ورځ به يې پر اوږو بار وي زه به ضرور داسې څوک وپېژنم چې د الله حضور ته راځي او اوښ به يې پر اوږو بار وي او رمبړې به وهي، او که غوا وي نو رمبړې به وهي، او که پسه وي نو هغه به هم اوازونه کوي، بيا يې لاس پورته کړ تر دې چې د تخرګ سپينوالی يې ښکاره شو، او ويې فرمايل: «اې الله! آيا ما پيغام ورساوه» زما سترګو وليدل او غوږونو می واوربدل.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي ﷺ يو سړی چې ابن اللُتبية نومېده، د بني سليم له قبيلې څخه د زکات راټولولو لپاره وټاکه، نو کله چې مدينې ته راستون شو، له هغه سره يې حسابي وکړه چې څه يې راټول کړي او څه يې لګولي دي، نو ابن اللُتبية وويل: دا ستاسو هغه مال دی چې ما د زکات څخه راټول کړی، او دا نور ماته ډالۍ شوي دی. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ولې دې د خپل پلار او مور په کور کې نه کېناستې تر څو وګورې چې آيا څوک درته ډالۍ درکوي کنه، که چېرته ته په خپله خبره کې ريښتينی يې؛ ځکه دا ډالۍ درته د همدغې دندې له امله درکړل شوي دي، او که په کور کې ناست وای، نو هېڅ شی به درته نه و درکړل شوي؛ نو يوازې د ډالۍ په نوم اخيستل درته روا نه دي. بيا رسول الله ﷺ په غصه منبر ته وخوت او خطبه يې وويله، د الله حمد او ثنا يې ادا کړ، بيا يې وفرمايل: اما بعد: زه له تاسو څخه يو سړی د هغه کار لپاره ګومارم چې الله ماته د زکاتونو او غنيمتونو د چارو واک راکړی، خو هغه له خپل کاره راځي او وايي: دا ستاسو لپاره دي او دا ماته د ډالۍ په توګه راکړل شوي دي! ولې هغه د خپل پلار او مور په کور کې نه کېناسته تر څو ډالۍ ورته راغلې وای؟ قسم په الله! څوک چې له حقه پرته څه واخلي، د قيامت په ورځ به يې پر غاړه وړي؛ که اوښ وي نو رمبړې به وهي، او که غوا رمبړې به وهي او که پسه وي نو رمبړې به وهي. بيا يې خپل لاسونه دومره پورته کړل چې ناستو خلکو يې د تخرګ سپينوالی وليد، بيا يې وفرمايل: اې الله! ما ستا حکم دوی ته ورساوه. بيا ابو حميد الساعدي رضي الله عنه وويل: دا هغه څه دي چې سترګو يې وليدل او غوږونو يې واوربدل.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5791